# تپه او اجمل خټک

# Tappa and Ajmal Khattak

Tahammul [1]

Tappa is the reflection of Pakhtoon unpurified and rough nature. If some one wants to know about Pakhtoon history, their social and traditional nature, he should study Pakhtoon's Tappa. Ajmal Khattak had a taste for Tappa at that time when he could not even speak. After words when he started to know about life he observed his predecessor in surrounding that they conveyed their thoughts that they through, Tappa, Charbita and Matal. He strongly convinced that his poetry imitation of Charbita. Ajmal Khattak has tried his luck in every genre of Pashto literature, just like Khushal Khattak, but he couldn't dare to try Tappa, but had memorized hundred of Tappa's which adorned his writing and speeches and made his audience astonished. In their content all his columns and articles published in Bang-e-Haram are worth reading that column named "Kachkol" started this Tappa. Stanza 1: (د بې ارزۍ کچکوله مات شے), Stanza 2: (چې در په در دِ ګرځوم تش دِ راوړمه). Then when he wrote the column on a topic he wrote a related tappa at the end. Along with all these he wrote poems in the light of historical tappa, which made tappa everlasting genre.

تپه پښتو شاعرۍ کښې په یو ارزښت ځائے ولاړه ده. پښتانۀ په تپه مئین دي تپې وائي او تپې اوري. اجمل خټک د نورلسمې پېړۍ هغه شاعر دې چې مونږ ترې په ادبي او سیاسي دواړو ډګر کښې سترګې نۀ شو پټولې. په ادبي ډګرکښې که د هغه په زرګونو لکونو پرستار وو نو په سیاسي ډګر هم د هغۀ ارزښت د چانه کم نۀ دے. په دغه دواړه مېدانونو کښې به هغه د موقع محل مطابق د تپې برجسته استعمال په داسې چل کوؤ چې انسان ورته حیران پاتې شي.

اجمل خټک چې څومره د تپې نه کار اخستے دے او څومره هغۀ د دې د اهمیت پوهه لرله هغه هومره دا چا راښکاره کړې نه دے. سره د دې چې د هغه په ادبي او سیاسي اړخ ډېر کار شوے دے خو د هغه پر برجسته تپې وئیلو ما ضرورت اوګڼو چې د هغۀ دا اړخ هم راڅرګند شي.

1 Ph. D Research Scholar Pashto Academy, University of Peshawar

ټپه د پښتون د شډل ارزګه فطرت هنداره دے. که څوک د پښتون د تاریخ، معاشرت، روایاتو او فطرت نه ځان خبرول غواړي نو ټپه دې راوخلي .

اجمل خټک د ټپې د خوږو خوند هغه وخت څکلے وۀ کله چې هغۀ خبرې هم نۀ وې ذده کړې. بیا چې کله شک ورت پوهه شو نو ګېرچاپېره ئې خپل مشران اولیدل چې هغوي خپلې خبرې په ټپه، متل او چاربیته مودلل اودرنوي. هغه په دې خبره داده دے چې هغه خپله شاعري د چاربیتې په تقلید کښې کړې ده.

اجمل خټک لکه د خوشحال خټک د پښتو ادب په هر صنف کښې طبع ازمائي کړې ده خو د ټپې وئیلو جسارت ئې نۀ دې کړې. خو په سوونو ټپې ورته یادې وې چې پخپلو لیکونو، وینا ګانو او تقریرونو کښې به داسې برجسته وئیلې چې سړے به درته ګوته په خُولۀ پاتې شو.

په دې لړ کښې د دۀ بانګ حرم کښې کښل شوي ټول کالمونه د وئیلو وړ ده. دغه کالم "کچکول" به د مشهودې لویه زړه پورې ټپې نه بیل کېدو

د بې ارزئ کچکوله مات شے

چې در په در دِ ګرځوم تش دِ راوړمه

بیا چې په کومه موضوع دغه کالم کښل شوے وو هغه شان ټپه به ئې په یاد کښې راوړلې شوې وه چې د کالم حیثیت به ئې پرې یو په دوه سیوا کړے وو.

دې سره سره هغۀ خپل ګڼ نظمونه د تاریخي ټپو په رڼا کښې کښل کړې وو او دغه شان د ټپې اهمیت ته ئې دوام بخښلے دے.

ټپه د پښتو شاعرئ د ټولو نه زیات زوړ صنف دے او هغه دم نه واخله تر دې دمه پورې د ټولو نه زیات او په زړۀ پورې هم. ځکه دا د پښتنو د تهذیب هنداره ګڼلے شي. د ټپې خصوصیت دا دے چې په ټوله پښتونخوا کښې او په هره زمانه او هر دور کښې د دې یو اهنګ دے ـ ټپه د پښتنو په بېلو بېلو سیمو کښې په بېلو بېلو نومونو بللے شي. په دې لړ کښې فضل میر خټک په خپل کتاب فضلیات کښې وائي:

"دا د اولسي، عوامي او يا د شفاهي ادب د نظم د څانګې يو اسان او په زړهٔ پورې صنف دے. ټپه په مختلفو علاقو کښې په بېلو بېلو نومونو پېژندے شي. په بره افغانستان کښې د قندهار او د سويل د خلقو کښې په لنډۍ مشهوره ده. د پېښور خليل،مومند، خټک او يوسفزي وغېره ورته ټپه يا مصرعه وائي. دا باجوړ، مهمند او د افغانستان د نمرخاتهٔ خلق ان چې د کابل خواو شا پورې پښتانهٔ ورته ټکۍ وائي."(۱)

پښتون د يو سپېڅلي، زګه، او شډل بډل فطرت څښتن دے. د دهٔ )طرز معاشرت( د دهٔ د فطرت انځورګري او رڼائي کوي. ټپه د دهٔ شاعري ده او په دغه شاعرۍ کښې د دهٔ د فطرت او معاشرت د دوارو انځورګري کېږي. د ټپې جوړښت د شاعرۍ په عروضو برابر نهٔ دے خو که خيال ورته اوکې نو ډېر فطري او ډېر قدرتي دے. چې ټش ايکي يو پښتون ئې جوړولے شي.د بل يو قوم کس ته که د ټپې جوړولو په حقله اوئيلے شي نو هغه به ئې جوړه کړي خو نه به داسې فطري وي او نه به پکښې دومره بې ساختګي. په دې حقله ډاکټر يار محمد مغموم وائي:

"شايد ټپه مصرعه يا لنډۍ د پښتو شاعرۍ قديم ترين شکل دے د شاعرۍ د نورو صنفونو په مقابله کښې ټپه د پښتنو د تهذيب د ارتقاء ډېر مؤثره نمائندګي کوي، ټپه د پښتنو د فطرت صحيح ترجمانه ده. او په ټپه کښې د يو مثالي پښتون د پښتون ولۍ، ننګ، غېرت، پت، بهادرۍ، مېلمه دوستۍ او د پښتنو د ژوند سره تړلي ټول قدرونه په تفصيل سره يو ځائے شوي دي. ښاغلے داور خان داود په دې وينا کښې بالکل په حقه دے. که ټپې يو غېر ملکي نقاد او محقق ته واور ولے شي نو هغه به د ټپو په بنياد ډېر په اسانه د پښتنو تاريخ رقم کوي."(۲)

ټپه د پښتو د شاعرۍ هغه صنف دے چې په ډېرو زړو ژبو کښې ئې هم ساري نه شي موندې کېدې. سو کا (اسانه) دومره چې سړے ئې يو ځل واوري نو ورته ياده شي او بيا تر عمرونو نهٔ هېرېږي. دا بيا تل تر تله د هغهٔ وي. پښتو کښې ځنې شاعرانو ټپې کښل کړې هم دي خو هغه، هغه شان زړهٔ پورې نهٔ انښلي څنګه چې زمونږ د شاعرۍ ملکه نهٔ لرلو پښتنو جوړې کړې دي.

په دې حقله یار محمد مغموم کښل کړیدي.

"ټپه د شاعرۍ هغه منفرد صنف دے چې مثال ئې د نورو ژبو شاعرۍ کښې نشته. دا د ټولو پښتنو شریک سرمایه ده. په انفرادي توګه څوک د ټپې د تخلیق او مکتب دعوٰی نۀ شي کولے. دا چې یو وار د چا په غوږ اولګي او ورته یاده شي بس بیا د هغۀ شي. اګرچې څنو شاعرانو په خپلو تخلیق شوؤ ټپو لکه د شاعرۍ د نورو صنفونو په خپلو نومونو د یوانو نه چاپ کړي دي. خو پښتو دغه بدعت ته په ښۀ نظر نۀ دي کتلي. د ټپې جوړونکے که معلوم هم وي خو هغه دغه ټپه د خپل نوم سره منسوب کولے نۀ شي، ټپه د هر چا وي او هیچا نه وي."(۳)

په پښتو ادب کښې اجمل خټک، خوشحال ثاني ګڼلے شي. خوشحال خټک د پښتو ادب کښې د شاعرۍ او نثر هر صنف را دننه کړے دے. او ښۀ پۀ زړۀ پورې تجربې پرې کړي دي. د فوکلور نه ئې پښتو ادب کښې ډیر کار اخستے دے خو د ټپې وئیلو جراءت ئې نه دے کړے. او دغه کار اجمل خټک هم کړے دے.

دغه شان اجمل خټک د ادب په هر صنف کښې، که هغه نظم دے، نثر دے که نظم، طبع ازمائي کړې ده، خو هغه چرې هم د ټپې جوړولو هسه نۀ ده کړې. او دغه شان ئې ځان د خپل هسک مقام نه نۀ دے غورزولے ځکه چې هغه ته پته وه چې په دغه شان کولو د هغۀ رود کمیږي.په دې حقله هارون الرشید خټک وائي:

"اجمل خټک د لیک او وینا دواړو اړخونو نه ښۀ کار واخست. او په دغه دواړو اړخونو د دوي ګرفت ښۀ مضبوط ؤ. ځنې خلق داسې دي چې لیکل ښۀ کولے شي خو د وئیلو یعني وینا سلیقه نۀ ورځي او داسې هم دي چې شعر ښۀ لیکلے شي نثر کښې کمزورے وي خو مونږ چې د خټک صیب شعر ته ګورو نو نظم ئې د نثر نه ښائسته دے. نثر ته ئې چې نظر کوو نو د شعر نه زیات تاثیر پکښې راښکاره کیږي او چې بیا وینا ته ئې نظر کوو نو هغه ئې د شعر او نثر نه زیات

زړۀ راښکونکے دے په وينا (تقريرونو) کښې د حالاتو ضرورت او موقعې مناسبت سره د ټپو (مصرعو) او متلونو استعمال داسې کوي چې خبره د خلقو ذهن کښې نقش کړي.

اجمل خټک له خبرې هم نۀ وي زده کړې چې هغه ټپه اوريدلے ده. د ټپې په معنٰى خو نۀ پوهېدو خو د دې په نعميګۍ سرور او خوند ډېر ښۀ پوهېدو. هغه به د مور په جولۍ کښې پروت وو نو هغې به د خپلې غربۍ بدمزګۍ ورکولو د پاره د دوۀ ځيزونو نه کار اخستو. په مزدورۍ به ئې ميچن اونړله او په ټپه به ئې د اجمل خټک پام غلطوو."(٤)

ډاکټر همايون سره په يوه مرکه کښې د يوې پوښتنې په جواب کښې وائي:

"زما د ژوند هغه تارونه د اوچېړل چې زما زړۀ راډک شو. زما ژوند زما د مور د هغې جولۍ نه چې هغې به په يوه پيسه دوه سيره غنم اوړول او د مېچن د هغې کرار سره د پښتنې ټپو د سندرو نه شروع شوے دے."(٥)

هغه که هر څومره لوئے شاعر، اديب او مقرر دے خو بيا هم هغه خپلې وېناګانې په ټپه درنې کړي دي. کله چې د دۀ يو مقصد بيانول مطلب وي نو هغې ته د رسېدو د پاره خپله وېنا د ټپې نه بيل کړي. مېنځ مېنځ کښې خپله وېنا مدلل کولو د پاره د ټپې اسره اخلي چې اخر ته اورسي نو خبره بيا مرکښې تيره شوې (بيان شوې). ټپې ته لاره شي نو دغه ځاے کښې سرے ګوته په خُولۀ شي. چې دا وېنا دۀ د دغه ټپې د پاره اوکړه. او که نه دا ټپه د دې وينا د پاره چرته پخوا جوړه شوې وه. هغۀ په ډېرو موقعو که هغه ليک دے او که وېنا، خپله وېنا په ټپه کښې کوي او درنوي.

لکه د هر پښتون د اجمل خټک ټپه خوښه وه. ټپې به ئې يادولې، ټپې به ئې راغوندولې او خوندي کولې به ئې. د رېډيو ملازمت دروان کښې په سلګونو ټپې راغونډې کړې وې.

په دې حقله افضل رضا وائي:

ژباړه: "څهٔ مال چې ئې رېډيو کښې ملازمت کوو هغه ورځو کښې ئې پښتو په زړهٔ پورې تپې داغوندې کړې. او يوه تپه د يوې روپۍ په حساب ئې ډېرې تپې خوندي کړې."(۶)

په دې حقله هغه په خپل سوانح عمري "قصه زما د ادبي ژوند" کښې وائي.

"فضل احمدغر چې د پښتو ژبې او رعباياتو مشهور شاعر وهٔ، په دکن حېدراباد کښې لوئې شاعر وهٔ. چې د هندوستان تقسيم اوشو نو غرصاحب هم د نورو مسلمانانو په شانې هندوستان نه په کډه راغے او خپل پښتونخوا ته را اورسېدو. دے په اصل کښې د سرډېرو (سرخ ډهير) تحصيل صوابۍ اوسېدونکے وهٔ. د دهٔ پلار حېدر اباد کښې وهٔ نو دے هم د هغه سره هلته وهٔ او هلته بوډا شو غرصاحب ما وړومبې ځل د خليق صاحب "اداره" کښې اوليدهٔ. دا داسې قيصه ده چې مونږ ناست وهٔ چې غر صاحب دُکان ته راوختو. چې خليق صاحب اوليدو نو ورپاځيدو او وې وئيل "هغه دے زمونږ ادارې ته غرصاحب راغے" او بيا ئې غرصاحب تعارف اوکړو مونږ دې په نامه او کلام د وړاندې نه پېژندو مونږ چې ورته اوکتل نو يو د ښکلې قوارې، سپينې برېرې سره مسکے او تازه مشر مخامخ ولاړ وهٔ. او دا غر وهٔ. د غرصاحب رعبايات مالوستے وهٔ او ډېر مې خوښ وهٔ د دهٔ د ليدو سره سمدستې زما د خلې نه دا لنډۍ اووته:

که اباسين راغلے نهٔ وې
په ګنګخرو کښې به چا موندل ټيکونه

د دې په اورېدو د غرصاحب د سترګو نه غټې غټې اوښکې روانې شوې او راپاځېدو زهٔ ئې ښکل کړم. بيا چې دے تر څو ژوندے وهٔ او زهٔ بهٔ ئې اوليدم نو اسويلے به ئې اوکړو او دا لنډۍ به ئې وويله."(۷)

د ټپې په خوږو مورِ اجمل خټک په کتابونو کښې ګڼ نظمونه د ټپې د اغيز دلاندې کښل کړي دي. او هغه په دې خبره داده هم دے.

"د دې نه علاوه د اجمل خټک هر نظم د موقع محل مطابق يوه مصورانه منظرنامه او نغمه ايزه فضا لري. دا کار هم د هغه د لفظونو د نشست و برخاست او د مصرعو د حرکت او حرارت نه اخلي. ځکه نظمونه ئې په صوتي، صوري او معنوي لحاظ په ځان کښې يو وحدت لري. او مجموعي تاثير ئې تر اخره نه ماتېږي او تخليق کار ئې په يو وخت شاعر، موسيقار او مصور معلومېږي هم دا وجه ده چې زمونږ دا شاعر نۀ يوائې په خپله تجربه کښې کامياب دے بلکې د فني تخليق په عمل کښې د مخکښې تلۀ سره سره په خپل بنيادي مقصد کښې هم برياله راوځي ځکه د هغۀ هره تجربه زمونږ په شعري ادب کښې يو مثال ګرځي او د "غېرت چغه" يو داسې مثال دے چې مثال نۀ لري.

د دې مجموعې "غېرت چغه" نوم نظم د دې مشهورې ټپې چې

که په مېوند کښې شهيد نه شوې
ګرانه لاليه! بې ننګۍ له دې سا تينه

د تاثير لاندې ليکلي شوې يو ډېر مؤثر او زوردار نظر دے، چې په فني او فکري حواله د پښتو په شاعرۍ کښې يو شهکار او د پښتون قام درهمايانه کردار حامل څوک ئې جواب کولې شي؟

ولې په دې غېرت خاوره کښې
په دې همه جراءت خاوره کښې
چرته تاوده وينه به نۀ وي چې واوري
چرته کښې سره وينه په نه وي چې واوري
زۀ د وطن د شهيدانو وينه
يو ارماني غوندې فرياد کومه (۸)

اجمل خټک د پښتونخوا د ګڼو شاعرانو او اديبانو د شاعرۍ او نثر په کتابونو ليکل کړي دي هلته ئې هم د ټپې نه کار اخستے دے. د ټپې ښکاره مضمون هنر رمز اشارې او کنائې په طور په داسې ماهرانه انداز کښې په کار راولي چې انسان د هغۀ دغه استاذۍ ته بقه خولۀ پاتې شي.

کله د حضرت زبیر زبیر په کتاب کښې کښېل کوي!

"د دې پښتو یا ملي روحي یا قومي نفسیاتو، یا خپل تشخص او د دې د بنیادي عواملو د حال دے چې دا هر څهٔ په منظمه ډول ورکولے کېږي او زمونږ د دې هر څهٔ نه سترګې پټې دي د وخت د سیاست د هر دور رنګونو جنډو، چغو او کرسۍ په لوبو او مزو چرچو مست شوې یو. د ځان سره مو قوم او ملک په چغو نارو ناروا اخته کړے دے پردۍ سُرنا ته ګډېدو او قوم د ځان سره ګډ وهٔ. ځان او جهان مو هېر کړے دے. ګني بیا بیا دا ثابته شوې ده چې دا لار د یار کوڅې ته نه ځي د اغیارو، قصاب خانې ته رسي. او د دې ورۍ نه شړۍ نهٔ جوړېږي. زهٔ یقین لرم چې په دې تیاره کښې به انشاءالله هېواد د وینې او مینې اورکي (زلمي دانشوران) چې ځلیدل ئې شورو شوې دي ذهنونه رڼا کړي په دې لړ کښې د حضرت زبیر زبیر دا هسه په دې مېدان کښې د تکل یو اهم او بنیادي قدم ګڼم الله تعالیٰ دې دوي دا کوشش د پسرلي وروستي ګل کړي.

خدائے به دِ زلفې په لاس را کړي
ما ته د کلي ماشومان دعا کوینه (۹)

عبدالرحیم مجذوب د کلیات نوم "زیړګلونه" دي دا پته نه لګي چې مجذوب د دې کلیات نوم زیړګلونه ولې ایښے دے خو زیړ ګلونه په پښتونخوا کښې د خوشحالو او کامیابو زېرے دے. د پسرلي لور محبوب د رانګ علامه ده لکه یوه ټپه ده!

دومره په بخت زور اور نهٔ یم
چې د تاله باغه به راوړم زیړ ګلونه

اجمل ختټک د مجذوب کلیات "زیړګلونه" په تاریخ لړ شان بحث کړے دے. وائي:

"دا کلیات زیړګلونه څهٔ دي؟ او دا څهٔ وي؟ او مجذوب صاحب څنګه دخپلې خاورې د ورمو او د خپلې وینې د بوي نه د فن مرام نه ښائسته لمنه کښې د انساني جهان او پښتنې دنیا نه په خپل احساس او فکر دا ګلونه مونږ ته وړاندې کوي هغه د هغهٔ حق، خو زهٔ ئې داسې ګڼم چې دا ګلونه د پښتو د روایتي، نفسیاتي، کلتوري اولسي ادب او ژورې روحې تقاضې علامه ده. زمونږ د پښتو

زوړ اولسي ادب کښې زيړګلونه د پسرلي رنګ او استازے (قاصد) دے لکه يو پخوانۍ مشهوره لنډۍ ده!

په علامه د پسرلي پوهه شوم
جينکو راوړل په اوربل کښې زيړګلونه (۱۰)

ډاکټر اکبر زمان خټک چې يو نومورے ډاکټر وو. او لاس کښې ئې ډېره شفا وه. هغۀ په پښتو ژبه کښې شاعري اوکړه او يو ښکلے کتاب ئې د اجمل خټک مخکښې کېښود نو اجمل خټک په دې خبره اوويارېده. چې يو سړے هر څومره تعليم يافته شي. او د ژوند په هر ډګر کښې د روزګار او خپل شوق د پاره د پردو ملکونو سېل اوکړي. خو چې خپله ژبه ياده اوساتي نو د دغه کس نه بختور نشته. ښاغلے اجمل خټک په دې کتاب په سر کښې خپل ليکل تاثرات داسې تيروي.

"د دۀ ساده او عوامي وېنا خپل رنګ او خوند لري او دۀ چې په اولسي ژبه او معيار خپل تاثرات کوم چې اولس ته درسولو کوشش کړے دے. هغه اولس به ئې په شوق نولي او د ژبې او ادب د خدمت مېدان کښې به د دۀ دا فرض ادا شي.

دا ګل دې راکړو په خندا شوي
زۀ دِ د ګله په خندا خوشحاله يمه

زۀ خو ډېر خوشحال په دې خبره شوم چې زما د دې عزيز د ملکونو په سفرونو د تعليم په مصروفيت، د ډاکټرۍ په تجربود کتابونو په لوستو او ورسره د ډول ډول سېر او تفريح په مزو کښې خپله ژبه ياده اوساتله او د هغې خدمت ئې اوکړو. څکه چې سوچه پښتون دے."(۱۱)

شېردل استاذ د خپل وخت دپښتو نعتيه شاعرۍ يو منلے شوے شاعر وۀ. چې د هغۀ شاګرد مهتاب ضمير ئې دکلام مجموعه راغونډه کړې ده مهتاب ضمير د خدائي خدمتګار باز ميرخان زوے او د باچاخان او اجمل خټک د جوړې يو کلک غړے وۀ. اجمل خټک چې د نعتيه شاعرۍ ددغه کتاب

په سريزه کښې چې هغه د شيردل استاذ د فن او شاعرۍ ستائينه کوي نو هلته د مهتاب ضمير زيار هم ستائې او د هغهٔ په حقله په دې موقع يو ټپه هم کوي.

"مهتاب ضمير يو بېدار پښتون ذهن او زړه لري د يو غازي او بهادر پښتون خدائي خدمتګار بازمير خان زوے دے او ځکه د ادب خدمت او قرباني ئې وينه او مينه ده نو ځکه د خپل استاذ دا کلام ئې دنيا ته پيش کړو. زهٔ د استاذ روح ته دعا کوم چې داسې کلام ئې پرېښے دے. نو د مهتاب ضمير ژوند ته هم دعا کوم چې خداے دې خوشحال او اباد ژوند ورکړي. چې دغه شان د پښتو ادب خدمت د اصلاح د پاره کوششونه کوي.

د بر ګودر لويه چيناره
مولا دې ګور کړه چې دِ سيوري ته کېښنمه (۱۲)

د اجمل خټک د ټپې په هر محل او موقع په کار راوستو باندې ښاغلي بختاني هم بحث کړے دے او د دهٔ فن ئې نور هم ځلولې دے.

د جنرل پروېزمشرف په غوښتنه اجمل خټک د هغه سره ليدل کتل اوکړل اجمل خټک د پارټۍ د منشور لاندې ورسره څو اصولي خبرې اوکړې ولې څو مياشتې پس حالات په مخه وارېدل او دغه ليدنه د اجمل خټک او ښاغلي عبدالولي خان د بيلتون سبب جوړ شو. اخبار خبرن ته ئې د انټرويو دوران کښې د يوې يو پښتنې په جواب کښې په خپل لاس دا ټپه کښل کړي.

ښهٔ ده چې ستا د لوري اوشوه
چې ملامته درته زهٔ نه شوم مئينه (۱۳)

کله چې اجمل خټک په بانک حرم کښې کار کولو. نو دغه وخت په دغه اخبار کښې يوه پاڼه د پښتو د پاره هم ايښودې شوې وه. اجمل خټک به په هغهٔ کښې د زړه براس ښهٔ په بې باکۍ ويستو. او په هر چا به ئې ټک کولو. د هغهٔ د ټک نه نهٔ خان خلاص وهٔ نه غريب. نومې پښتون چې هغه اخلاقي کمزورۍ لري. اجمل خټک په ډېر چل په هغهٔ د ټکونو غشي واورول. دغه کالم به ديوې ټپې د

د بې ارزۍ ځکوله مات شې
چې در په در دِ ګرځوم تش دِ راوړمه

نه پیل کېدو. او بیا به ئې یو موضوع راخستے وه. په هغې کښې به هغۀ په ډېر په لنډو خو په بشپړو ټکو لیک کړې وو او بیا به د موضوع دمخه تېه اخر کښې لیکلې شوې وه. چې یوائځے د اجمل خټک درسا فکر نمائندګي او ترجماني کوي.

## ماخذونه


۱: خټک، فضل میر، فضلیات، دچاپ خانه نوم نه لري، ۱۹۹۹ء، ص۱۵٤

۲: مغموم، یارمحمد،ډاکټر،(تحقیق او ژباړه) روښنانیان او پښتوادب، جدون پرنټنګ پرېس پېښور ، نومبر۲۰۱۱ء، ص ۲۱، ۲۲

۳: ایضاً، ص ۲۳

۴: هارون الرشید، بابا اجمل خټک دادب جمال دسیاست جلال،غني سنزپرنټرز،محله جنګي، پېښور، ۲۰۰٦ء، ص ۷۳

۵: هما،همایون،ډاکټر،قصه داجمل خټک سره د دوؤ مرکو،لیکوال، فروری۲۰۱۵ء،ص ۱۰

۶: رضا،افضل، اجمل خټک شخصیت اور فن، شرکت پرنټنګ پرېس لاهور،جون ۱۹۹۷ء، ص ۱۷

۷: خټک، اجمل، قصه زما دا ادبي ژوند،معراج الدین پرنټرز لاهور، دسمبر ۲۰۰۵ ص ۱۸۷، ۱۸۸

۸: راز،سلیم،دغېرت چغه،مشموله داجمل خټک یاد،د لوړوزده کړو وزارتِ مطبع،۲۰۰۸ء، ص ٤٦، ٤۷

۹: زبیر، حضرزبیر،اولسي رنګزار، ساهو دارو خواجه ګنج بازار، ص ۱۰، ۱۱

۱۰: خټک،اجمل، د پسرلي زیرګلونه، مشموله (مجذوب کلیات اوله برخه، زیرګلونه، عبدالرحیم مجذوب اول چاپ،احساس ګرافکس جنګي محله پېښور،جنوري۲۰۱۳ء، ص ۲

۱۱: خټک،اجمل، پښتون اکبرزمان، مشموله، د ننګیالو چغه، ډاکټر اکبرزمان کے کے خټک، ضیاء سنزپرنټرز،بابو حیدر پېښور،۲۰۰۱ء، ص

۱۲: خټک،اجمل،شیردل استاذ،مشموله،جولائي تاستمبر ۲۰۰۳ء، ص ۲

۱۳: روزنامه خبریں پشاور 29 مئی 2000